AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

تورقانع ۲۰۲۳/۰۷/۲۰

# د زړګي ځړيکي

د زړګي ځړيکي ځغلومه د پرهار ترغيږي
دا شپه به حتماً رڼوومه د سهار تر غيږي

ما په ځان وکړل چې ملا ته مې پښتون ووايه
ملا خو راوستم ستومانه د اغيار تر غيږي

ساقي کرم وکړه او مست مې کړه له درده مرمه
ګوره شړه مې مه چې لاړ شم د خمار تر غيږي

د بيدارۍ مانا خو دا ده چې ويده دي نه کړي
پرتا ډاريږم چې يې ويښ د زيړ دينار تر غيږي



له خر ځېدو سره اشنا شوي رب دې رحم وکا
د نه‌خرڅلاو شعار دې مل دی د بازار تر غيږي

د زړه تارونه بې اهنګه شول نغمې نه چيړي
را ځئ پناه يوسو نغمو ته دسيتار تر غيږي

لکه طوطي راسره سم جانان ـ جانان غږيږي
په مات وزر چونهار کړي د چيغهار تر غيږي

له تور قانع سره دتور سرنوشت واټ ته ګورئ
پر هر پړاو يې ويني ډنډ دي دکشتار تر غيږي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ